# زېری

علمي- څېړنیزه، ادبي پنځلس ورځنۍ جریده

د تأسیس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي


هېڅ ثابته نه کړه چا د دې دنیا وفا
واړه مینې کاندي بېهوده په دا دنیا

هر څوک چې دعوی په دا دنیا کا د خپلوی
واړه باطل وایي دنیا نه ده د هېچا
(عبدالرحمن بابا)


پنجشنبه د لړم ۱۵ - ۱٦مه، او د لیندۍ ۱۷ - ۱۸ ګڼه، پرله پسې (۴۳۱-۴۳۴) مه ګڼه، د ۱۴۰۳ل کال د لیندۍ ۲۹مه، د ۱۴۴٦هـ.ق. کال د جمادي الثاني ۱۷ مه او د ۲۰۲۴ز.کال د دسمبر ۱۹مه



شاد یوسفزی


## د ګلزار موسم شاعري د فکر او فن امتزاج (۱) برخه

په دې خبره هـــــــر هغه انسان پوهېږي څوک چې د ادب سره لږ ډېر بلد وي چې د ادب او ژوند یوه نه پرې کېدونکې اړیکه ده.که ادب له ژوند نه وجود موندلی دی نو ژوند هم د خپل پرمختګ لپاره د ادب محتاج دی. له ادب نه بغېر ژوند په وړاندې نه شي تللی ځکه چې "په کومه ټولنه کې چې یو عام انسان ادب یوه عبث سرګرمي وګڼي نو د دې مطلب دا شو چې دغه ټولنه رنځوره ده بلکې په وروستیو سلګیو ده". (۱: ۱۳مخ)

که ادب د ژوند نه د خپل وجود لپاره اکسیجن اخیستی دی خو ژوند ته یې هم په سمه لاره د تګ لکه د یو استاد لار ښودنه کړې ده او فکري غذا یې ورښښلې ده.ادب چې له کله نه هم د ژوند حصه ګرځېدلې ده نو د هغه وخت نه پس دواړو کله هم د یو بل نه جدا تګ نه دی کړی. ادب د یوې ټولنې د ټولنیز روح او ټولنیز شعور او لاشعور اظهار وي چې کله هم په ژوند کې څه ستونزه پېښه شوې ده نو ادب نه یوازې هغې ستونزې ته ګوته نیولې ده بلکې د هغې حل لاره یې هم لټولې ده. چې کله هم ژوند د فرسوده خیالاتو او روایاتو سره مخ شوی دی او د جمود ښکار شوی دی نو ادب د هغه جمود په ماتولو کې خپل کردار لوبولی دی او د هغې فرسوده خیالاتو او روایاتو د ترک کولو او یا په هغې کې د مثبت ترمیم کولو هڅې یې کړې دي. یا به داسې ووایو چې ادب د ژوند یا یوې ټولنې فکري طور نوی تشکیل کوي ـ د ژوند په وړاندې تګ کې ادب لوی لاس لري بلکې دواړو په وړاندې تګ کې د یو بل سره اوږه په اوږه او لاس په لاس تګ کړی دی. څومره چې ژوند په وړاندې ځي او ارتقاء مومي نو داسې ورسره ادب هم خپله لمن پراخه کوي او په خپل ظاهري وجود کې د هیئت په لحاظ هم او په باطن کې په فکري او موضوعاتي لحاظ هم بدلون راولي ـ کله چې په ژوند کې د ضرورت تر مخه نوي نوي خیالات او رجحانات ځای مومي نو داسې ورسره ادب هم د دغه نوو خیالاتو او رجحاناتو سره سم ځان بدلوي. خو دلته دا خبره هم په ذهن کې ساتل پکار دي چې ادب دغه نوي خیالات او رجحانات په پټو سترګو هم نه قبلوي بلکې په هغه نوو خیالاتو او فکري رجحاناتو اظهار خیال هم کـــــوي او د هغې په ژوند د منفي او یا د مثبت اغېزو په اړه بحث ته لاره هم هواروي ـ په خپله هم د هغه رجحاناتو او خیالاتو غندنه کوي کوم چې ژوند یا په وروستو بیایي یا یې په وړاندې تګ کې خنډ جوړېږي او یا په ژوند بد اثر پرېباسي. دغه شان د مثبت اړخ تایید او حمایت کوي او د هغې لپاره ماحول هم جوړوي۔ نو ځکه ادب ته په ژوند کې یو لوی او مقدس منصب تر لاسه شوی دی.

خو د ادب وجود د ادیب نه بغېر هم ممکن نه دی یعني د ادب خالق ادیب وي او دغه خالق چې په کوم دور یا ټولنه کې ژوند کوي نو د هغـــــه دور او ټولنې د عصري تفکر چاپ به هم د هغه په تخلیقي فنپارو ارو مرو لګېدلی وي. که چېري مونږ یوه داسې فنپاره پیدا کړو چې د هغې شاعر معلوم نه وي نو د هغې له موادو نه که مونږ د هغې خالق معلوم نه کړی شو نو کم از کم دا ښه په اسانه ویلی شو چې دغه فنپاره د کوم دور سره علاقه لري.

پښتنو شاعرانو او ادیبانو هم په هر دور کې د خپلو ذاتي او داخلي مسئلو سره سره په خارجي مسئلو هم په خپلو فنپارو کې اظهار کړی دی او خپله رایې او نکته نظر یې لوستونکو ته وړاندی کړی دی.

ګلزار موسم د پښتو د نوي کول په شاعرانو کې یو ځانګړی مقام لري۔ د هغه شاعري که په فني لحاظ تجزیه شي او که په موضوعاتي لحاظ یې جاج واخیستل شي نو د یو نقاد مخې ته به یو باشعوره لیکوال او ورسره یو پوهه فنکار او شاعر وځلېږي. د هغه شاعري په خپل وجود کې د فن سره سره موضوعاتي تنوع هم لري او په هر شعر کې یې د شاعرانه خصوصیاتو مجموعي تاثر د لوستونکي په ذهن نقش کېږي. نوي خیالات او نوي ترکیبات د هغه دشاعرۍ ځانګړې خاصیتونه دي۔ دلته زه د هغه په شاعرۍ کې د ژوند په هغه مسئلو بحث کوم کومې چې ماته اهمې هم ښکاري خو د دې سره یې دغه مسئلو ته یاځانګړی اپروچ کړی وي او یا یې د ژوند یوه عامه مسئله په زړه پورې


۲مخ



حمیدالله احمدزی


## د حمید مومند په اشعارو کې د مستعار مجاز ډولونو څېړنه (۲) برخه

**د استعارې ډولونه**

**۱- د مستعارمنه او مستعارله د ذکر او حذف په لحاظ وېش:**

د مستعارمنه او مستعارله د راوړو او نه راوړو له مخې استعاره په دوه ډوله ده:

۱ ـ مصرحه استعاره ۲- مکینه استعاره

**اول: مصرحه استعاره:** هغه استعاره چې مستعارله په کې حذف شي او مستعارمنه په کې په څرګند ډول راوړل شي. (۸: ۴۴مخ)

لکه د حمید مومند په لاندي بیتونو کې:

چې بتان بازار د حسن کاندي ګرم
سنګدلان کا لکه موم په آتش نرم (۵: ۳۴۲مخ)

په پرده کې د اسلام بـت پرستي کړم
خدای دې نه کاندي دا ستر زما مات (۵: ۴٦مخ)

ځکـه نه لـري پروا بتـان دمښــکو
هر کمنـد لري د زلفـو کان د مښـکو (۵: ۲۷۹مخ)

په پورته بیتونو کې (بتان) له ښکلو څخه استعاره ده، (بتان) مستعارمنه (ښکلي) مستعارله، ښکلا وجه جامع ده او په لومړي بیت کې د حسن بازار ګرمول او په دریم بیت کې زلفې قرینه ده.

**دویم: مکینه استعاره:** هغه استعاره چې مستعارمنه په کې حذف شوي وي او مستعارله په کې راوړل شوي وي خو مستعارمنه د خپلو لوازماتو او متعلقاتو له مخې وپېژندل شي. (۸: ۴۷)

چې منګلې یې د ترکو په زړه ګرځي
ډوب په وینو کې لړمون شه د حنا (۵: ۹مخ)

په پورته بیت کې (حنا) مستعارله انسان مستعارمنه، (پټ سور رنګ) لرل یې وجه جامع ده، په وینو کې د لړمون ډوبیدل یې قرینه ده او په عین وخت کې د انسان له متعلقاتو څخه ده.

که هرڅو یـې لـوغړن د آه په اور کړي
څوک به خوی د کج روۍ د فلک نور کا (۵: ۲۴مخ)

فلک له بد انسان سره تشبیه شوی، (فلک) مستعارله، (بد سړی) مستعارمنه، (ضرر رسول) یې وجه جامع ده، د کج روۍ خوی بدلیدل یې قرینه ده په عین وخت کې د مستعار منه متعلقات هم دي.

لکه صبح چې په څیرې ګریوان خاندي
هسې زه د عشـــق زیانونـه ګـڼم سـود(۵: ٦۵مخ)

صبح له انسان څخه استعاره شوی. (صبح) مستعارله، (انسان) مستعارمنه دی، په څیرې ګریوان خندل یې قرینه ده، چې په عین وخت کې د مستعارمنه متعلقات هم دي.

هره شپه چې دا ستا خیال په غېږ کې نیسم
بـوی د ګـل مـې لــه بشـره سحر درومې(۵: ۱۷۹مخ)

په پورته بیت کې خیال له انسان سره تشبیه شوی، (خیال) مستعارله، (انسان) مستعارمنه، په غېږ کې نیول یې قرینه ده، چې په عین وخت کې د مستعارمنه متعلقات دي. د مکینې استعارې نورې بېلګې:

یار د یار د مخ په خیـال کله پوهېږي
د ادب پـه دو زانــو شــه زمـا روح (۵: ۵۷مخ)

خود چې اغوندې حمیـد خلعت د وصل
تـرې وکـاږي یـې فلــک په وینو ســور (۵: ۷۳مخ)

**۲-د ملایماتو او مناسباتو له مخې د استعارې وېش:**

د مناسباتو له مخې استعاره په درې ډوله ده.

**۱- مطلقه استعاره:** هغه استعاره ده چې د مستعارله او مستعارمنه لوازم پکې ذکر شوي نه وي. یا دا چې د دواړو مناسبات او ملایمات په کې ذکر شوي وي، خو په بعید ډول. (۳: ۲۹۸مخ)

زر پـه زر بـه ظـالم حســن د بتــانو
کاندي خدای توره بـلا د خـط نزوله (۵: ۲۴۵مخ)

په پورته بیتونو کې (بتان) له ښکلو څخه استعاره ده، (بتان) مستعارمنه (ښکلي) مستعارله، د خط نزول قرینه ده، (حسن) یې وجه جامع ده. حســـــــــــن د مستعارمنه او مستعارله دواړو لپاره لوازم دي.

چې منډې په کې سرې او سپې خولې سمې
د دنیــا لـه خــوانــه ښــه یــم بینـوا (۵: ۱۱مخ)

سرې د نیکو خلکو لپاره او سپې د بدو خلکو لپاره استعاره ده، (سرې) مستعارمنه او نیک خلک مستعارله، (سپې) مستعارمنه او (بدخلک) مستعارله دي چې د مستعارمنه او مستعارله لپاره کومه مناسبه کلمه نه ده راغلې.

**۲- مجرده استعاره:** هغه استعاره ده چې د مستعارله مناسبات یا صفات پکې ذکر شوي وي. (۳: ۲۹۹مخ) لکه د حمید مومند په لاندي بیتونو کې:

له بتـانو د بوسـې طمع طـاعون ده


۲مخ



څېړندوی شوکت عمر


## ژبه، لهجه او د پښتو لهجو وېش(۲) برخه

**د لهجې د رامنځته کېدو لاملونه**

د لهجو د رامنځته کېدو جریان د ژبې د پیدایښت څخه تر نن ورځې پورې جاري دې او جاری به وي که موږ د نړۍ د ژبو جریان ته ځیر شو د ژبو د لهجو د زیاتوالي په څنګ کې د لهجو د کمېدو پروسه هم روانه ده چې په دې حالت کې ځینې ژبې ملي او بین المللي پړاو ته هم رسېږي. په لنډه توګه ویلی شو څومره چې یوه ټولنه د پرمختګ په لومړیو پوړیو کې وي هماغه اندازه د ژبې لهجې هم زیاتې وي برعکس که یوه ټولنه پرمختللې وي د هغې ټولنې د ژبې لهجې کمې او یوه معیاري او یوازینی ژبه رامنځته کېږي.

د ژبو او لهجو د تاریخي سیر او څېړنې له مخې ویلای شو چې ژبه او لهجه یو تر بله نږدې اړیکې لري، ژبه بې له لهجې او لهجه بې له ژبې ژوندۍ پاتې کېدای نه شي کله داسې هم پېښېږي چې یوه لهجه په ژبه او یا ژبه په لهجه واوړي، همدا رنګه ممکنه ده یوه لهجه په یو مهال کې له ځانه نورې لهجې رامنځته کړي او بالاخره په یوه ځانګړې ژبه واوړي اوس راځو د لهجو د رامنځته کېدو په عواملو غږېږو. له ژبې څخه د لهجو د منځته راتګ عوامل په دوو برخو ویشل کېږي.

**الف. خارجي عوامل:** دا هغه عوامل دی چې د یوې ژبې پورې مربوط خارجي چاپېریال او محیط جوړوي او دغه عوامل عبارت دي له تاریخي، جغرافیوي، سیاسي، کلتوري، اقتصادي او داسې نور شامل دي.

۱. جغرافیوي عوامل: په غرنیو سیمو او هیوادونو کې زیاتره د لهجو د ګډوډۍ او زیاتوالي لامل کېږي.

۲. سیاسي عوامل: کله چې په تاریخي او سیاسي لحاظ یوه یا ډېرې وړې ټولنې په جغرافیوي چاپېریال کې د حاکمې طبقې د ژبې تر تاثیر لاندې راشي نو هرومرو د دوی د ژبې په اوازونو، لغاتو او ګرامري جوړښتونو کې بدلون راځي او په دې لړ کې یوه لهجه په بلې باندې تاثیر کوي له دغې ګډوډۍ څخه په لومړي سر کې یوه نوې لهجه جوړېږي، وروسته د وخت په تېرېدو سره که دواړه ژبې (لهجې) د خپلو سرچینو (مورنیو) اړیکې و نه شي ساتلای دوی یوه نوې ژبه جوړوي.

۳.که چیرې په یوه سیمه کـــــــې په سلو کې نهه نوي فیصده وګړي په یوه ژبه او لهجه خبرې وکړي مګر د سیمې او منطقې رسمي مسایل سل په په سلو کې د یو شخص په لاس کـــــــې وي نو د اکثریت ژبه ښکاره تر تاثیر لاندې راولي.

۴ـ په ځینو ښارونو کې په سلو کې پنځوس خلک په یوه ژبه خبرې کوي، مګر د هغو لپاره لومړنی ښوونځی په هغه ژبه کې نه وي او یا داسې پېښ شوي چې یو شخص د خپل پلار او نیکه له چاپېریال شوي په بله ژبه خبرې کوي چې دغه عمل په ژبه کې د لهجو د توپیر لامل کېږي .

۵- د خلکو د سیمې بېلوالی چې په خاصه توګه په دولتي ترکیب کې چې په مختلفو سیمو کې ژوند کوي هم د لهجو د بېلوالي لامل کېږي.

٦.د ټولنې قومي او نژادي مناسبات، دیني مسایل، اقتصادي طبقات، چې مخصوص الفاظ او اصطلاحات لري.که چیرې دغه ټولنیزې طبقې نورو مربوطو ټولنو سره په تماس کې وي ښایي د دوی په ژبه کې دومره بدلون راشي چې ځانته بېلې لهجې جوړې کړي.

۷ـ د علمي او ادبي اثارو نشتوالی، نه خپرېدل د لهجو په زیاتوالي او رامنځته کېدو کې تاثیر لري.

۸ـ د نورو ژبو د اثارو څخه ګټه اخیستل ژبه په شعوري ډول د پردۍ ژبې د اصطلاحاتو، جوړښت او سبک تر اغیز لاندې راولي.

**ب. داخلي عوامل:** د ژبې په داخلي تغیراتو کې دغه لاندې تغیرات او بدلونونه منځته راځي.

۱.مورفونیمیکي تغیرات
۲.فونومیکي تغیرات
۳.لغوي تغیرات

**الف. مورفونیمیکي تغیرات:** مورفیم کله کله د خپل چاپېریال یا نورو عواملو له امله بدلون مومي او ښلا ښل شکلونه ځانته غوره کوي، د مورفیم دغه ښلا ښلو بدلونونه چې د محیط او چاپېریال په وجه ور پېښېږي او دغه رنګه د فونیمونو داسې نور بدلونونه چې په مورفیم کې د مختلفو عواملو په وجه واقع کېږي، هغه ته مورفونیمیکي بدلون وایي مورفونیمکي بدلونونه په ځینو ژبو کې ساده او په ځینو کې پېچلي وي،خو په عمومي ډول په دوه ډوله پېښېږي یو دا چې کله کوم مورفیم د


۳مخ



لیکوال: پوهاند دوکتور حنیف خلیل
ژباړن: څېړندوی حمایت الله ښاد


## پښتو ادب او ختیځپوهان (۳) برخه

جیمز ډار مستېټر په ۱۸۸۳ز. کې پر ایرانیانو باندې یو کتاب ولیکه. دا کتاب له خپلو ځانګړنو سره د لرغونو ایراني ژبو او ادب په اړه یو په زړه پورې معلوماتي کتاب و. په ۱۸۸٦ او ۸۷ز. کې دی د هندي ژبو پر څېړنه وګمارل شو. څه موده یې په بمبیي کې له پارسي عالمانو څخه د زند، اوستا او زردشتي ادب په اړه معلومات ترلاسه کړل او بیا په پېښور او ابیټ آباد کې د پښتو ادب په اړه هغه تاریخي او ادبي مواد راټول کړل چې له برکته یې دا څېړونکی په اروپایي ختیځپوهانو کې وځلاوه او د پښتو ژبې او ادب د څېړنې او څېړنې په ډګر کې د ځانګړې اوخارتیا او مشهورتیا څښتن شو. د ده مشهور کتاب د پښتو د ولسي شاعرۍ ټولګه »هار و بهار «ده چې مخکې یې یادونه وشوه. د ختیځپوه ډار مستېټر نورې څېړنیزې هڅې لاندې دي:

۱ـ د زند او اوستا بشپړه ژباړه ۱۸۹۲. (په فرانسوي)
۲ـ د ایراني ژبو څېړنه
۳ـ غوره مقالې (منتخب مقالات) ۱۸۹۵
۴ـ اهریمن (پر ختیځو علومو مقالې) ۱۸۷۷
۵ـ پر یهودو څېړنه ۱۸۸۳
٦ـ د بني اسرایلو انبیاء ۱۸۹۲
۷ـ الهي کیسې (فسانه الهی) ۱۸۹۰
۸ـ پر انګرېزي ادب څېړنه ۱۸۸۳

پروفیسور افضل رضا په خپل کتاب کې د »فقه اللغت «او »فقه الصوت «په حواله لیکلي دي چې:

»د دې برخې ژباړه د عبدالحی حبیبي او عبدالرؤف بېنوا غوندې جید عالمانو کړې ده چې »د ډار مستېټر څېړنې «په نوم له پښتو ټولنې څخه چاپ شوی دی..«

**۸) ډاکتر میکنزي (Dr. Makenzi)**

»دی د لندن په ښوونځي کې له ختیځو او افریقایي مطالعاتو سره نږدې پاتې شوی دی او د اسیا د مرکزي ژبو پوه دی. ده د خوشحال خان خټک ځینې منتخب نظمونه د یونیسکو په مالي مرسته ژباړلي او خپاره کړي دي. دا منظومه ژباړه ډېره خوندوره او روانه ده. نوموړي د برټش موزیم او د دولت د ګډو اړیکو د دفتر په مالي مرسته د برتانیې د کتابتونونو د پښتو قلمي کتابونو یو نوملړ په بېخي نوي انداز برابر کړ. په دې نوملړ (فهرست) کې د بوډلین، برټش موزیم، کیمبرج پوهنتون، د انډیا آفس جان ریلنډ، د لندن د ختیځو او افریقایي مطالعاتو ښوونځی او د ډبلن د بنتي کاج کتابتون په قلمي زېرمو کې د پښتو قلمي آثارو تفصیلات لیکل شوي دي او د هغو پنځو تنو په وسیله چې دا کتابونه دغو کتابتونونو ته رسېدلي دي، په دې کتاب کې یې یادونه شوې ده. دا کتاب په ۱۹٦۵ز. کال په انګلستان کې چاپ شوی دی. ډاکتر میکنزي په دې نوملړ کې د جیمز بلوم هارټ (James Fuller)هرمن ایتهـ(Herman Ethe)، ای جي برون (E.G Browne) د کتابونو نوملړونه هم چاپ شوي دي، په دغو کې د پښتو قلمي آثارو او په نولسمه او شلمه پېړۍ کې د پښتو چاپ شوو کتابونو یادونه شته دي..«

**۹) سر اولف کیرو (Sir Olaf Caro)**

د برتانوي حکمرانۍ پر مهال په پښتونخوا کې ډګروال (ګورنر)، مؤرخ او څېړونکی او ژبپوه و. د ده ستره کارنامه د پښتو ژبې او پښتنو د اصل او نسل په اړه تاریخي او تحقیقي کتاب (The Pathans)(پښتانـه) دی چې پکې یې د پښتنو د اصلیت په اړه د لاسته راغلو موادو په رڼا کې خپل نظریات وړاندې کړي دي.

**۱۰) ګریرسن (Grierson)**

ګریرسن ژبپوه او لوی څېړونکی و. پر هندوستاني ژبو باندې یې څېړنې کړي دي او په څو ټوکونو کې یې د «Linguistic Survey of India»په نامه مستندې څېړنې کړې دي. د دې کتاب د لومړي پنځه ټوکونو ژبې له څنګه چې د پاکستان په جغرافیې پورې اړوندې دي، ځکه دغه پنځه ټوکونه د پاکستان تر جوړېدو وروسته د (Linguistic Survey of Pakistan)په نوم هم چاپ شوي دي. د دې پنځو ټوکونو په لومړي ټوک کې د پښتونخوا ژبې، لکه: پښتو، اورمړي او نورې شامل دي.

**۱۱) ډاکتر هربرټ پنزل (Dr. Herbert Panzl)**


۲مخ

## د ګلزار موسم شاعري...

پېرایه کې د فن په کالو ښایسته کړې وي.

پښتنه ټولنه له یوې زماني راهیسې د بد امنۍ په اور کې سوزي او تقریباً هر پښتون شاعر ورته په خپلو عینکو کې کتلي دي او د خپل شعري صلاحیت تر مخه یې لوستونکو ته دغه د بد امنۍ ژړا کړې ده خو دغه موضوع په دې لنډ وخت کې دومره وشاربل شوه چې که یو شاعر د لوی تخلیقي صلاحیت خاوند نه وي نو په یو عام او روایتي بیان دغه مسئله د اولس په زړه او ذهن کې تحریک نه شي پېدا کولی ځکه چې انساني سوچ او فکر په ځای ولاړ نه شي پاتې کېدی، انسان د وخت تېرېدو سره په هر څه کې د وړاندې تګ لپاره لارې ګودرې لټوي. په هر څه کې د نوي والي هڅه کوي. د دې مثال به داسې ورکړم چې که یو سړی په وړومبي ځل معمولي غونډې نشه هم وکړي نو هغه به ترې پوره مزه واخلي خو چې کله هغه بیا د هغې نشې سره عادت شي نو هغه نشه بیا هغه ته بې اثره ښکاره شي او بیا د هغې نشې هڅه کوي چې د هغې زړې نشې نه یې اثر زیات وي. هم دغه مثال د ادب د موضوعاتو هم دی چې په وړومبي ځل یوه مسئله په کوم شدت سره په شعر کې وړاندې شي نو که راتلونکي شاعران بیا دغه مسئله د هغې نه په شدت سره وړاندې نه کړای شي نو په اولس اثر نه شي پرېباسلی. ځکه پوهان وایي چې هغه فنپاره به یوه مکمله فنپاره وي په کومه کې چې فکر او فن دواړه په یو خاص توازن سره موجود وي. که چېرې په دغه توازن کې په یو کې هم دروندوالی یا سپک والی راځي نو توله به ګډه وډه کېږي او د فنپارې په اثر کې به هم کمی راځي. خو دلته چې زه د ګلزار موسم کوم شعرونه را نقلوم نو د موضوع په لحاظ خو به لوستونکو ته نوي نه ښکاري ولې د شاعر د بیان صلاحیت او شدت به پکې لکه د لمر ځلېږي.

په دې ټول انسانیت مینه او امن
وحي راغله محبت، مینه او امن
حاجتونه په دنیا کې بلها ډېر دي
خو بس دا اهم حاجت مینه او امن
خلک پوهه اوس په دې حقیقت نه دي
نور به څه وي خو "جنت" مینه او امن (۲: ۱۳٦ مخ)

په وړاندې شویو شعرونو که غور وشي نو په پورته کرښو کې شوې دعوه به بالکل په ځای ښکاره شي کومه چې ما د ګلزار موسم د شاعرۍ په اړه کړې وه. په دې شعرونو کې یې ځنګه یوه عامه تجربه د خپل الهامي او تکنیکي صلاحیت په زور لوستونکو ته وړاندې کړې ده. نه یې الهام د تکنیک په غازو د مصنوعیت ښکار شوی دی او نه یې د تکنیک د وجود نه انکار کړی دی او هم دا د هغه د تخلیقي او تنقیدي شعور دلیل دی. شاعر انسانیت مینه او امن د ژوند بنیادي توکي ګڼي. او دا هغه توکي دي چې کومه ټولنه ترې محرومه وي نو هلته ژوند یو لـــــــوی عذاب وي او د عذاب په حالت کې انسان د ژوند لپاره د وړاندې تګ سوچ نه شي کولی. ولې د دنیا د تاریخ نه ثابته ده چې په هرې شپې پسې سحر ضرور راځي او کله چې یو نظام په ځای ودرېږي نو بیا هلته خامخا یو نوی نظام سر را پورته کوي.

د دې بد امنۍ دا توره بلا مختلف عوامل لري. زه دلته په هغه عواملو بحث نه کوم ولې هر چا د خپلو مقاصدو لپاره د دې اولس د مذهبي جذبې نه پوره ګټه پورته کړې ده او چې چا هم د مذهب نوم اخستی دی نو دا اولس ورپسې هر ځل په پټو سترګو تللی دی او هر ځل د لوی کمر نه پرېوتی دی۔ د قام دغه بد بختۍ او بې شعورۍ ته ګلزارموسم داسې اشاره کوي.

قافله د ژوند په مخکې ده روانه
زه ولاړ یمه لا نه یمه روان
د ذهني ارتقاء لارې رانه ورکې
دا په دې چې پسته یمه روان (۲: ۱۷۸مخ)

پورته دواړه شعرونه د یوه غزل نه نقل شوي دي چې د قافیو لړه کمزوري لري خو د شعر الهامي کیفیت او جمالیاتي اړخ دومره زړه راښکون پیدا کـــــړی دی چې د لوستونکي دغې فني یا تکنیکي کمۍ ته ذهن نه ځي. دلته دا وضاحت هم کول غواړم چې ضروري نه ده چې شاعر په یو شعر کې هم یوه مسئله وښایي او هم یې حل وړاندې کړي۔ که په یو شعر کې په موثره طریقه یوه نکته وړاندې شي او د دغه شعر په مرسته د اولس ذهن او پام دغې مسئلې ته را وګرځي نو بیـــــا به دغه شعر، نظم یا افسانه وغېره یوه کامیابه فنپاره وي خو یو صاحب نظر شاعر به د دغې مسئلې د حل کولو لپاره هم څه نا څه سوچ لري او د دې سره به د هغې بنیادي سبب هم لټوي.

دلته هم ګلزار موسم په زیاتو شعرونو کې د دې خاورې د ټولو نه د اهمې مسئلې یعني د بد امنۍ بنیادي سبب ته ښکاره ګوته نیولې ده.

**یادونه: پاتې برخه په راتلونکې ګڼه کې خپرېږي.**

## پښتو ادب او ختیځ...

»د امریکا په میشګین پوهنتون کې د الماني ژبې استاد و، وروسته کیلفورنیا ته ولاړ. نوموړی ډېر وخت په افغانستان او په تېره په کندهار کې تېر کړی او دغلته یې د پښتو ژبې پر جوړښت او ګرامر ډېره برلاسي پیدا کړې وه. د ژبپوهنې د نوو آرونو له مخې یې ګرامر ولیکه. دا ګرامر یې د پښتو ژبې د کندهارۍ لهجې پر بنسټ لیکلی دی. د ډاکتر خیال بخاري، پروفیسور جهانزیب نیاز او د افغانستان د یو روڼ اندي پوه په همکارۍ یې د پښتو د زده‌کړې ځیني لومړني او ثانوي کتابونه لیکلي او پر پښتو ـ انګرېزي سیند (قاموس) باندې یې هم کار پیل کړی و، خو د ځینو ستونزو له امله په نیمه کې پاتې شو. ختیځپوه پنزل د پښتو ژبې په اړه په انګرېزي څو نورې رسالې هم لیکلې دي او د امریکا په جارج ټاون پوهنتون کې یې څه موده د پښتو ژبې تدریس هم کړی دی. د «A Grammar of Pashto»په نوم یو اثر یې هم په ۱۹٦۱ز. کې چاپ او خپور شوی دی..«

**۱۲) جی ډبلیو سپین (J. W. Spain)**

جی ډبلیو سپین د پښتنو پر اصل و نسل، تاریخ، ثقافت او ارزښتنو د ډاډ وړ څېړنې کړې دي. د ده آثار «The way of the Pathans» او «Pashtun Borderland» په دې لړ کې د یادولو وړ دي.

**۱۳) جینز انولډسن (Jens Enevoldsen)**

»د پښتو ژبې او ادب په اړه چې نوموړي کوم آثار لیکلي، د هغو نومونه په دې ډول دي: د خوشحال خان خټک او د هغه د کلام د ځینو برخو ډنمارکي ژباړه، سپوږمۍ کرنګ وهه راخېژه، د پښتو د ځینو لنډیو او متلونو ډنمارکي ژباړه چې دا یو انځوریز کتاب دی. دا انځورونه د پښتنو د ټولنیز ژوند هېنداره ده چې یو ځوان هنرمند سعید سلطان جوړ کړي دي. سپوږمۍ کرنګ وهه راخېژه، له انګرېزي ژباړې سره دا منظومه ژباړه پادري انولډسن په خپله کړې ده. «An Introduction to Pashto»د پښتو درسي کتاب دی، په دې کتاب کې ۳۹ درسونه دي، پر دې سربېره توري (حروف)، د هغو اداءیني، د پښتو ژبې ګرامري جوړښت او په ۳۴مخونو کې قواعد هم وړاندې کوي. انګرېزانو ته د پښتو په ابتدایي زده‌کولو کې دا ډېر په زړه پورې او لومړنۍ هڅه ده.

په ۱۹٦٦ز. کې د خوشحال خان خټک ژباړې، ۱۹٦۷ز. کې سپوږمۍ کرنګ وهه راخېژه او په ۱۹٦۸ز. کې «Introduction to Pashto»چاپ شوي دي. په دې ټولو کتابونو کې ورسره پښتو څېړونکو او ادیبانو مرسته کړې ده چې په دغو کتابونو کې یې نومونه شته دي.

د دې ختیځپوه یو مهم کتاب د رحمان بابا د غوره کلامونو منظومه انګرېزي ژباړه ده. په دې کې پنځوس غزلونه دي چې د اسلامي تصوف استازي کوي. نوموړي په ډېر غور او ژور فکر سره دغه ژباړه کړې ده او ډېر وخت یې د دغې موضوع په اړه ژوره مطالعه کړې ده. ده ټول اصطلاحات، استعارې او تشبیهات چې په دې ډول شاعرۍ کې له پخوا څخه کارېدل، ټول یې له لغوي او اصطلاحي معناوو سره په پام کې نیولي دي او پر دې یې ډېر ژور بحث هم کړی دی. په دې ډول د رحمان بابا په دیوان کې ځینې شعرونه یو مهال غلط لوستل کېدل، ده په ډېرو هڅو د رحمان بابا له ډېرو خطي نسخو او متنو سره له مقایسې او مقابلې وروسته سم کړل، لکه: دا بیت چې په ډېرو چاپي نسخو کې داسې راغلی دی.:

په عیسی او په دجال کښې ګناه نشته
دا مکرونه دي د نفس او د شیطان

نوموړي دغه بیت داسې سم کړی دی:

په عیسی او په جمال کښې ګناه نشته
دا مکرونه دي د نفس او د شیطان

دا بیت په خپل شکل کې د جمال خان او ګل خان د تاریخي تراژیدۍ له شرایطو او ځانګړنو سره سمون نه درلود؛ خو په دویم بیت او سم شکل کې د دغې تراژیدي بشپړه پایله جوتوي او ورسره د رحمان بابا د شاعرانه عظمت او تصوفي روح څرګندونه هم کوي. له دې ورهاخوا دغه ختیځپوه ځیني علمي او تحقیقي مقالې هم لیکلي دي. دوې مقالې یې د خوشحال خان او رحمان بابا پر پېژندنو د پېښور پښتو اکاډمي په پښتو څېړنیزه مجله کې چاپ شوې دي. پر دې سربېره ځینې مقالې او څېړنیز مضمونه یې په «Peshawar Times»، د چشن په کتابچه او د ډنمارک په بېلابېلو ورځپاڼو او جریدو کې هم چاپ شوي دي چې ډېر یې د پښتو ژبې او پښتنو تاریخ په اړه دي. پادري جینز

۳مخ

## د حمید مومند په اشعارو کې...

مومي څوک د شوم له کوره نواله (۵: ۲۴۴مخ)

بتان له ښکلـــــــو څخه استعاره ده، (بتان) مستعارمنه، (ښکلي) مستعارله، بوسه او شوم له کوره د نواله لاسته راوړل یې قرینه ده. چې په عین وخت کې د مستعارله متعلقات هم دي.

په دا کاربه سخندان توتیان پوهیږي
چې اشعار د حمید خوند کا د چوري (۵: ۲۷۳مخ)

توتیان له پوهانو او شاعرانو څخه استعاره ده، (توتیان) مستعارمنه، (پوه کسان او شاعران) مستعاله دي. د حمید په اشعارو پوهیدل او خوند ترې اخیستل یې قرینه ده، او په عین حالت کـــــې د مستعارله مناسبات هم دي. نورې بېلګې:

چې د شونډو دې خوراک شوې بتا وینې
لـه هوســه نـه سـهیږي زمـا وینـې (۵: ۳۱۰مخ)
چې بتـان شي هـم صحبت د آیني
یو پـه سـله شي حـیرت د آینـي (۵: ۱۸۲مخ)

**۳- مرشحه استعاره**: هغه استعاره ده چې یوازې د مستعارمنه مناسبات او ملایمات پکې راغلي وي. (۸: ۵۳مخ)

د مومنــد جوهرخاني لـره دې راشي
که څـوک غـوارې ښه لعلونه یمني (۵: ۳۱۰)

**۳- د ګرامري کیفیت او خصوصیت له مخې د استعارې ویش:**
د کلمې د ګرامري څرنګوالي له مخې استعاره دوه ډوله ده:

**۱ـ اصیله استعاره:** که د مستعارې معنا نوم وي، یعنې د نومونو له کټګوري یعني خیزنوم، ستاینوم، شمېرنوم او نومځری وي، اصیله استعاره یې بولي. (۳: ۳۰۲مخ)

چې بتان بازار د حسن کاندي ګرم
سنګدلان کـا لکه موم په آتش نرم(۵: ۳۴۲مخ)

په پورته بیتونو کې (بتان) له ښکلو څخه استعاره ده، (بتان) مستعارمنه (ښکلي) مستعارله ده، (بتان) جامد نوم دی نو ځکه یې اصیله استعاره بولي.

غـم د ترکو دی که سیورۍ د دیوانو
چې حیران یې په تدبیر کړو زما زړه (۳: ۳۰۲مخ)

شاعر په پورته بیت کې د ترکو غم، د دیوانو له سیوري سره تشبیه کړی دی (که) د تجاهل عارف په ډول د تشبیه حکمي توری دی. ترکو مستعارمنه، ښکلي مستعارله، زړه قرینه ده. د استعارې دواړه رکنه د نوم له ډلې څخه دي، نو اصیله استعاره ده.

**۲-تبعیه استعاره:** هغه استعاره ده چې مستعار لفظ په کې فعل یا شبه فعل وي. لکه په لاندې بیتونو کې:

که ښښتن یې په خپل فضل ړمنځ نه کـا
ښې ښې ږیرې به شي سپکې لکه درب (۵: ۳۴مخ)

ړمنځ کا له عزت ورکولو څخه استعاره ده. (ړمنځ کا) مستعارمنه، (عزت ورکول) مستعارله دی. ړمنځ کا د فعل په بڼه واقع شوی، ځکه یې تبعیه استعاره بولي.

تاج و تخت چې ګـدایان شړي له دره
بادشــاهانو څخه اوسي لاعـــلاج (۵: ۵۳مخ)

شړي د نه قبلولو لپاره استعاره ده. (شړي) مستعارمنه، (نه قبلول) مستعارله دی. شړي د فعل په بڼه راغلی دی. په همدې خاطر ورته تبعیه استعاره وایي.

ډبـوي پخپلـه ځـان حـاکم د عقـل
چې د عشق د ملک خراج ته لري شوق (۵: ۱۲۵مخ)

ډبوي له تباه کېدلو او له منځه وړلو څخه استعاره ده. (ډبوي) مستعارمنه، (تباه کېدل) مستعارله دی. ډبوي له ډبول مصدر څخه مشتق شوی فعل دی.

خو ځلي مې درته خیري کړ ګریوان خپل
وادې نـه ړول لـه مانـه رقیبـان خپـل (۵: ۱۳۳مخ)

وادې نه ړول له منع کولو نه استعاره ده. (وادې نه ړول) مستعارمنه، (منع کول) مستعارله دی. وا دې نه ړول له اړول مصدر نه مشتق فعل دی.

زړه مې لـه غیرتـه په ګوګل دننـه دود شـي
ړمنځ چې دې بې فهمه وهي ګوتي په کاکل (۵: ۱۳۴مخ)

ګوتې وهل له ړمنځولو نه استعاره ده. ګوتې وهي مستعارمنه، (ړمنځوي) مستعارله دی. ګوتې وهي له ګوتې وهل مصدر څخه مشتق شوی فعل دی.

**۴- د ماهیت له مخې د استعارې ویش**: د ماهیت لـه مخـې استعاره په څلور ډوله ده: (الف) محسوسه له محسوسې سره (ب) معقوله له معقولې سره (ج) محسوسه له معقولې سره (د) معقوله له محسوسې سره.

**۱-محسوسه له محسوسې سره:** هغې استعاره چې مستعارمنه او مستعارله دواړه په کې حسي وي، یعنې د ذات نومونه وي. (۸: ۷۴مخ)

نه له ما د مینې خوی ځـي د بتـانو
نه د جـورو د جفـا رسـم له دوی لاړ (۵: ۷۸مخ)

په پورته بیت کې بتان د ښکلو لپاره استعاره ده، (بتان) مستعارمنه او (ښکلي) مستعارله دي، چې دواړه حسي یا د ذات نومونه دي.

د بـاګرام د لالــه زار بلـــبلان واړه
د حمید خوشـګویـایی کړه خاموش (۵: ۹۵مخ)

بلبلان له شاعرانو څخه استعاره ده. (بلبلان) مستعار منه، د (بګرام شاعران) مستعارله دي. چې دواړه مستعارله او مستعارمنه حسي یا د ذات نومونه دي. وجه جامع یې خوشګویي ده.

**۲- معقوله له معقولې سره:** هغه استعاره چې مستعارمنه او مستعارله دواړه د معنا نومونه وي. (۸: ۷۵مخ)

آهو چشمو چې یې زړه په افسون وکېښ
هغـو سر له ودانـۍ په هـامون وکېښ (۵: ۱۰۰مخ)

افسون د نظر او توجه لپاره استعاره ده، (افسون) مستعارمنه، (نظر یا توجه) مستعارله، (د حالت بدلول) یې وجه جامع ده، سترګې او زړه قرینه ده. مستعارمنه او مستعارله دواړه د معنا نومونه دي.

**۳- محسوسه له معقولې سره:** هغه استعاره چې مستعارله حسي او مستعار منه د معنا نوم راغلی وي. (۸: ۷٦مخ)

چـې د کفـر غلبـه پر اسلام راغلـه
د محبوب د حسن کبر زیاتي کم شو (۸: ۷٦مخ)

په پورته بیت کې (کفر) او (اسلام) د( مخ) لپاره استعاره ده. د محبوب حسن قرینه ده. کفر او اسلام د معنا نومونه دي چې دلته مستعارمنه واقع شوي دي. (خط او مخ) د ذات نومونه دي چې مستعارله واقع شوي دي.

**۴ـ معقوله له محسوسې سره:**هغه استعاره ده، چې مستعارله د معنا نوم او مستعارمنه پکې حسي۔ راغلی وي. (۸: ۷٦مخ)

ښـکلي نه درنـوي غـوړ په نورو درو
چې په غوړ کاندي حمیـده ستا یاقوت (۵: ۴۹مخ)

په پورته بیت کې (در او یاقوت) له وینا څخه استعاره ده، (در او یاقوت) مستعارمنه چې محسوس واقع شوي دي، (وینا) مستعارله ده، چې معقول واقع شوي ده.

هیڅ دې نه کړه د توبې په جارو صافه
د مرګ لار دې هسې پرېښوده اغزنه (۵: ۲۵۱مخ)

اغزي د بدو عملونو لپاره استعاره ده، (اغزي) مستعار منه چې حسي راغلي دي، (بد عملونه) مستعارله دي، چې معقول واقع شوي دي.

چې دې ستـا د نافې بـوی اخلي حمیــده
څه بـه نه وي خـوش دمـاغ غوري ښښـي (۵: ۲۹۴مخ)

د نافې بوی د رنګینو معناوو څخه استعاره ده، (دنافې بـوی) مستعارمنه چې حسي دی او (رنګیني معناوې) مستعـارلـه، چې معقول یا د معنا نوم دی.

**۵ـ د وجه جامع د راوړو او نه را وړو له مخې د استعارې ویش:**
د وجه جامع د ذکر او حذف له مخې استعاره دوه ډوله ده:

**۱- مفصله استعاره:** که چېرې پر مستعارله او مستعارمنه سربېره وجه جامع هم په کلام کې راغلې وي، مفصله استعاره یې بولي، (٦: ۲۲۲مخ) لکه د حمید مومند په لاندې بیتونو کې:

چېـري نشــې د هـاتي تر قـدم لانـدې
په عاجز مـچ او مېـږي مه ږده قـدم (۵: ۱۴۷مخ)

هاتي د زورور، مچ او مېږی د کمزورو کسانو لپاره استعاره ده. (هاتي) مستعارمنه، (زوروركس) مستعارله، (طاقت او زور) یې وجه جامع ده چې ښکاره نه ده راغلې. مچ او مېږی مستعارمنه، (کمزوری کس) مستعارله، (کمزوري) یې وجه جامع ده، چې په څرګند ډول په کلام کې راغلې ده نو ځکه ورته مفصله استعاره وایو.

**۲ـ مجمله استعاره:** هغه استعاره ده، چې د مستعارله او مستعارمنه ترمنځ یې وجه جامع په څرګند ډول نه وي راغلې، مجمله استعاره یې بولي. (٦: ۲۲۴مخ)

ښـکلي نـه درنـوي غـوړ پـه نورو درو
چې په غوړکاندي حمیـده ستا یاقوت (۵: ۴۹مخ)

په پورته بیت کې (در او یاقوت) له کلمو او معناوو څخه استعاره ده، (در او یاقوت) مستعارمنه، (کلمې او معناوې) مستعارله دی، (ارزښت) یې وجه جامع ده، چې په څرګند ډول نه دی ذکر شوي.

**پایله**

ما خپله پورتنۍ څېړنه چې د (عبد الحمید مومند په اشعارو کې د مستعار مجاز د ډولونو څېړنې) تر عنوان لاندې موضوع باندې بشپړه کړې ده، په دغه څېړنه کې مې لومړی د حمید مومند دژوندانه لنډه بیوګرافي د هغه شاعرۍ، سبک او آثار په لنډه توګه بیان کړې دي. عبد الحمید مومند د پښتو ژبې پیاوړی شاعر وو، مبتکره او نوښتګره قریحه یې درلوده. نه یې غوښتل چې د بل چا د سبک پیروي وکړي نو په خپل قوي تخیل او فکري استعداد یې د پښتو ژبې په شاعرانه نړۍ کې ځانته سبک ایجاد کړ چې خپل سبک یې په ادبي فنونو، ښکلي صنعتونو، لوړ خیالونو، په نادرو تشبیه ګانو، استعارو، کنایو او شعري تلازماتو باندې ښکلی کړی دی. چې له همدې امله چا د پښتو ژبې بیدل، چا د پښتو ژبې سعدي او چا د ویښته سوري کوونکي (موشګاف) لقب ورکړ.

د عبدالحمید مومند په اشعاروکې د مستعار او مرسل مجاز ټول هغه ډولونه شته چې په عربي، اردو او پارسي کې کارول شوي دي. او د پښتو ژبه یې له ګاونډیو ژبو سره د سیالۍ کولو پوړیو ته رسولې ده.

عبدالحمید مومند د مستعار او مرسل مجاز د ډولونو په کارولو او باریکیو پوره پوهیده. نوموړي د مجاز ارزښت درک کړی دی، چې ځنګه وینا ته تازګي ور وبښي نو له همدې کبله یې ډېرې خبرې د استعارې په مرسته په ساده بڼه مخاطب ته لیږدولې دي. او لکه ځنګه چې د انسان طبیعت رنګا رنګې خوښوي د مرسل مجاز په مرسته یې موضوع ګانې او مطالب په بېلا بېلو ډولونو سره ادا کړي دي چې له دې سره یې د کلماتو له تکرار څخه مخنیوی کړی دی او خپلو اشعارو ته یې ښکلا وربښلې ده.

**مأخذونه**

۱. بینوا، عبدالروف. ادبي فنون. هیواد کلتوري ټولنه: کندهار. ۱۳۸۲ل.
۲. درمل، احسان الله. شعرستان. سروش کتاب پلورنځی: کابل. ۱۴۰۱ل.
۳. شیرزاد، محمد آقا. ادبي فنون بدیع او بیان. میهن خپرندویه ټولنه: جلال اباد. ۱۳۹۵ل.
۴. شیرزاد، پښتون آقا. د پښتو ادبیاتو تاریخ دویمه دوره. نویسا خپرندویه ټولنه: کابل. ۱۳۹۹ل.
۵. مومند، عبدالحمید. د عبدالحمیدکلیات. دانش خپرندویه ټولنه: پېښور. ۱۳۸۳ل.
٦. ناګار، فضل ولي. د بیان علم. ناګار خپرندویه ټولنه: جلال اباد .۱۳۹۵ل.
۷. هیوادمل، زلمی. د پښتو ادبیاتو تاریخ. دانش خپرندویه ټولنه: کابل. ۱۳۷۹.
۸. همکار، محمد ابرهیم. د مجاز ډولونه. ختیځ خپرندویه ټولنه: ننګرهار. ۱۳۹۲ل.
۹. روهي، محمد صدیق. د پښتو ادبیاتو تاریخ. دانش خپرندویه ټولنه: کابل. ۱۳۸۴ل.
۱۰. سیلاني، تمهیدالله. په پښتو ژبه کې د ادبي فنونو کتابښود. مومند خپرندویه ټولنه: جلال اباد. ۱۳۹٦ل.

## په جمله کې د مورفیمونو...

تابعیت موجود وي، هغه مورفیم، چې بـل د ځان تابع کوي تابع کوونکی مورفیم بلل کېږي او هغه مورفیم چې د بل مورفیم تابع ګرځي تابع شوی مورفیم ورته وایي او تابعي اړیکې په لاندې څلورو ډولونو سره تړلې کېږي:

۱. د سمون اړیکه: د سمون اړیکه د مبتدا او خبر په منځ کې واقع کېږي او خبـــــــر د یوګړي او ډېرګړي او همدارنګه د نرینه او ښځینه په لحاظ له خپل مبتدا سره سمون لري. په دې اړه پوهاند شېرزاد صاحب داسې لیکي: »د سمون یا مطابقت معنا دا ده چې په ترکیبونو او عبارتونو کې د کلیمو ترمنځ او په جمله کې د جملې د اجزاوو یا غونډونو (اسمي او فعلي) ترمنځ ګرامري سمون او مطابقت موجود وي، دغه مطابقت او سمون د جملې د فاعل او فعل یا مبتدا او خبر ترمنځ د شمېر (عدد)، نوږي (جنس) او وګړي (شخص) له مخې په نظر کې نیول کېږي. «(شېرزاد، ۱۳۹۵: ۷۰ - ۷۱ مخونه)

د شمېر یا عدد له پلوه مطابقت او سمون هغه وي چې د جملې ارکان د عدد (مفرد او جمع) له مخې سره سمون ولري یعنې که په جمله کې فاعل یا مبتدأ مفرد وي نو د فعل یا خبر برخه یې هم باید مفرد وي او که مبتدا جمع وي نو خبر هم باید چې جمع وي. لکه:

زه له کتاب سره مینه لرم.

موږ له کتاب سره مینه لرو.

په پورتنۍ لومړۍ جمله کې ګورو چې (زه) یوګړی متکلم نومځری د جملې د مبتدا برخه ده او (مینه لرم) د جملې د فعل یا خبر برخه ده او دا هم یو ګړی راغلی دی. په دویمه جمله کې بیا (موږ) جمع متکلم نومځری دی چې په جمله کې د مبتدا په حیث راغلی دی او (مینه لرو) د جملې خبر دی چې د جمع متکلم په بڼه راوړل شوی دی نو په دې دواړو جملو کې د مبتدا او خبر ترمنځ پوره مطابقت موجود دی او همدې ته د سمون اړیکه وایي.

د جنس له اړخه مطابقت دې ته وایي چې که د جملې مبتدا ښځینه جنس وي نو خبر یې هم باید ښځینه وي او همدارنګه که مبتدا نارینه جنس وي د خبر برخه هم باید د نارینه په ډول راشي لکه په لاندې بېلګو کې:

سمندر په ونه وخوت.

مامونۍ پرون بام ته وخته.

په پورتنۍ لومړۍ جمله کې سمندر یوګړی نارینه مبتدا او وخوت د جملې د خبر په توګه نارینه راغلی دی او همدا رنګه په دویمه جمله کې مامونۍ د یوګړي ښځینه مبتدا او وخته د جملې د خبر په توګه ښځینه بڼه راغلی دی. نو په دې دواړو جملو کې د مبتدا او خبر ترمنځ پوره مطابقت موجود دی او همدې ته د سمون اړیکه وایي.

د شخص یا وګړي له مخې مطابقت او سمون هغه دی چې په جمله کې فاعل یا مسند یا مبتدا، هر یو شخص (لومړی، دویم، درېیم) راغلی وي؛ نو فعل یا مسند یا خبر ورسره سم وکارول شي. د مثال په ډول:

زه په ډوډۍ خوړلو کې عجله کوم.

ته په ډوډۍ خوړلو کې عجله کوې.

هغه په ډوډۍ خوړلو کې عجله کوي.

په پورتنۍ لومړۍ جمله کې (زه) د مبتدا په توګه د لومړي شخص یا متکلم په توګه راغلی دی نو خبر یې هم (عجله کوم) د متکلم په بڼه راغلی دی، همدارنګه په دویمه جمله کې (ته) د مبتدا په توګه د دویم شخص یا مخاطب په بڼه راغلی دی او خبر یې (عجله کوې) د مخاطب لپاره راغلی دی او په درېیمه جمله کې (هغه) د مبتدا په توګه درېیم شخص یا غایب وګړی راغلی دی او خبر یې (عجله کوي) د د غایب نومځري لپاره راغلی دی چې په دې درې واړو جملو کې د مبتدا او خبر ترمنځ پوره مطابقت موجود دی او همدې ته د سمون اړیکه وایي.

۲ -اضافي اړیکه: په اضافي اړیکه کې یو مورفیم له بل سره د اضافت د توړو (د-ز-س) په واسطه خپله رابطه ټینګوي او د مضاف مورفیم ته تاکل شوی او مضاف الیه مورفیم ته ټاکونکی وایي. (شېرزاد، ۱۳۹۵: ۷۲ مخ)

د اضافي اړیکې د پېژندنې لپاره لاندې جملې وګورئ:

۱ -زما قلم ښکلی دی.

۲ -ستا وېښتان تور دي.

۳ -د ګناه توروالی په صابون نه لرې کېږي.

په پورتنیو جملو کې د اضافت اړیکې (ز، س، د) د توړو په واسطه، چې د (زما، ستا، د ګناه) مورفیمونو ته مضاف الیه یا ټاکونکی او د (قلم، وېښتان، توروالی) مورفیمونو یا کلمو ته مضاف الیه یا ټاکل شوي مورفیمونه وایي.

۳ -د ملتیا اړیکه: د ملتیا په اړیکه کې تابع شوی مورفیم یا کلمه د تابع کوونکی مورفیم یا کلمې سره څنګ پر څنګ راځي او د دوی ترمنځ د تړنې، سمون او اضافي رابطو او سپینو ته اړتیا نشته او که فرضاً تابع شوې کلمه له جملې څخه لرې کړای شي بیا هم غونډله یا جمله مانا ورکوي او د جملې مانا ته کوم ځانګړی بدلون نه ورکوي. د ملتیا د اړیکې د پېژندنې لپاره لاندې جملې وګورئ:

۱ -احمد په تلوار راغی.

۲ -زه په کراره ځم.

۳ -سمندر ډېر وځنډېد.

په پورته جملو کې (په تلوار، په کراره، ډېر) تابع شوې کلمې دي، چې د جملې د خبر یانې تابع کوونکو (راغی، ځم، وځنډېد) له کلمو یا مورفیمونو سره په څنګ کې راغلي دي.

۴ -د تړنې اړیکې: په دې ډول رابطه کې د غونډلې یا جملې خبر تابع شوې کلمې مجبوره وي، چې په جمله کې د بشپړونکي یا نحوي قید په ډول واقع شي.

د تړنې د اړیکې د پېژندنې لپاره لاندې جملې وګورئ:

۱ -زلمی کور ته لاړ.

۲ -بریالی له مدرسې څخه راغی.

۳ -توریالی په الوتکه کې راځي.

په پورته جملو کې وینو، چې (لاړ) د لومړۍ جملې خبر دی او د (کور) کلمه د (تا) سره یوځای مکاني نحوي قید دی او په جمله کې په خبر (لاړ) پورې مربوط شوی دی. په دوهمه جمله کې د (راغی) کلمه جز او تابع کوونکی هم دی او د (مدرسې) کلمه چې مکاني نحوي قید دی (له، څخه) سره یوځای د (راغی) تابع دی، چې په منځ کې مفعول او بشپړونکی واقع شوی دی.

په درېیمه جمله کې (راځي) خبر او تابع کوونکې کلمه ده او (الوتکه) بشپړوونکې او تابع شوې کلمه ده، چې د (په) سرینه نحوي قید په وسیله (موټر) مفعول او د خبر تابع شوی دی. په دې ترتیب سره په جمله کې د مورفیمونو ترمنځ اړیکې ټینګېږي

**پایله**

په جمله کې د مورفیمونو ترمنځ اړیکې په دوه ډوله دي عفي اړیکې او تابعي اړیکې. د عطفي اړیکو لپاره یوازې د عطف د اداتو (او، و، که، یا) په واسطه په جمله کې ټینګېږي مګر تابعي اړیکې بیا ځانته په څلورو ډولونو باندې وېشل کېږي چې د سمون، اضافي، د ملتیا او د تړنې اړیکې دي او دا هر ډول له بېلابېلو بېلګو سره یوځای تشریح شول.

**مأخذونه**

۱ـ خوږشکی، محمد صابر. پښتو غږپوهنه او وییپوهنه، ختیځ خپرندویه ټولنه: ننګرهار، ۱۳۹۲ل.

۲ـ زیار، مجاور احمد. پښتو پښویه (څلورم چاپ)، دانش خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۳۹٦ل.

۳ـ شېرزاد، محمدآقا. پښتو نحوه (نوي کتنه او څېړنه)، میهن خپرندوی اداره: جلال آباد، ۱۳۹۵ل.

-------------

## پښتو ادب او ختیځ...

انولډسن په کوپن بیګن پوهنتون کې څه وخت د پښتو ژبې استاد هم و.

د دې ختیځپوه بل مهم کار د پښتو ادبیاتو خدمت ته ملا تړل و، یعني د پښتو ادبیاتو سروس یې پرانیست، نوموړي له همدې لارې په ایک دیګن کې د پښتو کتابونو کتابتون پرانیست. دی په ټولو ولایتونو کې هغه مهال صوبه سرحد او بلوچستان ته په خپله ته او پښتو کتابونه به یې پلورل. څه وخت وروسته یې د پېښور په صدر کې په دې نوم هټۍ پرانیسته، خو د ځینو ناخرګندو لاملونو له امله دا کاروبار وتړل شو. .«

**۱۴) رابرټ سیمپسن (Robert Sampson)**

رابرټ سیمپسن د امریکا دی. د پېښور په ایډورډز کالج کې د فزیک استاد دی. ده «A dictionary of Spoken Pashto»په نوم پښتو سیند (قاموس) ترتیب کړی دی، خو پر حضرت رحمان بابا باندې یې ځانګړی کار کړی دی. د رحمان بابا بشپړ دیوان یې په انګرېزي ژباړلی چې ډېره خوږه او معیاري ژباړه یې کړې ده.

له پورتنیو ختیځپوهانو ورهاخوا ګولډن سټیټ، الفنسټن، وي هانري، مالیون، برټلز، ګلبرټسن، روس کیپل، جان هارټ، ګیګر الماني، لاریمر، کوکس، هوګس، ډاکټر ټرمپ، ایولن هاول، بډلف، تهارن، میجر آر لیچ، کلاپورت، لبیدیف، جیربچیکاف، عارف عثمانوف او د لبیدیوا نومونه څرګند دي.

**مأخذونه**

۱. طایر، محمدنواز. روهي ادب (ترجمه سید صفدر علی شاه)، پښتو اکیډمي پېښور پوهنتون: ۱۹۸۷م. ۴۴۵ ـ ۴۴۷ مخونه.

۲. پورتنی مأخذ. ۴۴۷مخ.

۳. همدغه مأخذ. ۴۴۹ـ ۴۵۱ مخونه.

۴. افضل رضا، محمد. د پښتو نثر تاریخ، یونیورسټي بک ایجنسي: پېښور، ۱۹۹۵م، ۴۰۰ مخ.

۵. طایر، محمد نواز. روهي ادب. ۴۵۱ ـ ۴۵۲ مخونه.

٦. پورتنی مأخذ. ۴۵۴، ۴۵۵مخونه.

۷. همدغه مأخذ، ۴۵۵، ۴۵٦مخونه.

۸. همدغه مأخذ. ۴۵۵مخ.

۹. همدغه مأخذ. ۴۵۷، ۴۵۸مخونه.

-------------

## ژبه، لهجه او د پښتو لهجو...

کوم فونیم په وجه اغیزمن شي او تغیر وخوري، لکه په انګریزي ژبه کې چې (s) د جمعې مورفیم دی، کله چې تر غږن اواز وروسته راشي په غږن (z) سره تلفظ کېږي لکه په (Rooms Roads, Eggs,)کې د پورته کلمو په مفرد شکل کې د پای اوازونه په ترتیب سره (G,D,M) دي او دغه درې واړه غږونه تر غږن اواز وروسته راغلي؛ نو د غږنتیا د اغیزې له مخې (s) په (z) یعنی غږن ډول ادا کېږي او که چیرته همدغه د جمعې مورفیم (s)تر بې غږه اواز وروسته واقع شي، نو بې غږه (s) په (س) تلفظ کېږي، لکه د (Roots, Books, Lips) په کلمو کې چې (P, K, T) اوازونه دي؛ نو ځکه د جمعې مورفیم (s) په خپل اصلي شکل (س) تلفظ کېږي او د خپل مخني فونیم پواسطه بدلون مومي دغه رنګ په پښتو ژبه کې د (زما- zma) او ستا (ستا- sta) په کلمو کې(ز) او (س) د مالکیت مورفیم دی،که نوموړی مورفیم تر (م) غږن مورفیم څخه د مخه راشي په (س) یعني په غږن اواز سره ادا کېږي یعنی نوموړی مورفیم د خپل وروستني فونیم پواسطه اغیزمن کېږي او په همدغه سبب بدلون مومي.

مورفونیمکي بدلونونه دا لاندې ډولونه لري:

**۱ـ اسمېلېشن(Assimilation):** د مورفونیمکي بدلون تر ټولو مهم ډول دی او هغه دا چې کوم اواز د ګاونډي اواز د تاثیر له امله د نوموړي ګاونډي اواز سره یو شی یا ورته والی پیدا کړي اسمېلېشن ګڼل کېږي. لکه په سنبله کې چې (ن) په (م) سره بدلون مومي یا په دري ژبه کې (یک ګربه ) په عبارت کې چې (یک) (ک) په خبرو کې په (ګ )سره تلفظ کېږي په لومړي مثال کې (ن) په (م) سره ځکه بدلون مومي چې د (ن) له څنګه یو شونډیز اواز (ب) راغلی دی او د دغه اواز تاثیر له امله (ن) هم شونډیز اواز (م) سره اوښتی دی.

په دوهم مثال کې (ک) یو بې غږه انسدادي اواز دی، چې د خپل ګاونډي اواز (ګ) د تاثیر له امله غږن شوی دی. په اسمېلېشن کې ناخبري د مخني اواز پر وروستي اواز باندې تاثیر وکړي او وروستنی اواز بدلون ومومي پراګرایسو اسمېلېشن (Progressive Assimilation) ورته وایي، لکه په ترکي ژبه کې (gitdi>git ti) (دی ولاړ) او که وروستنی اواز په مخني اواز باندې تاثیر وکړي او مخني اواز ته تغییر ورکړي ریګریسیو اسمېلېشـــــن (Regressive Assimilation) ورته وایي لکه په (ستا) او (زما) کې چې وروستنی اواز پر مخنی اواز باندې تاثیرکړی.

په عمومي توګه اسمېلېشن په دوه ډوله واقع کېږي یو دا چې د داسې اواز پواسطه واقع کېږي چې تغیر شوی اواز تـــــر څنګ واقع وي او فاصله ونلري. دې ډول اسمېلېشن ته متصــــــــــل اسمېلېشن (Contiguous Assimilation) وایي لکه په (ستا) او (زما) کې او بل دا چې اسمېلېشن د داسې اواز پواسطه واقع شي چې د تغیر شوي اواز تر څنګ نه وي راغلی او یو له بله سره فاصله ولري یعنی په منځ کې یو یا څو اوازونه راغلــــــــــي وي چې داسې اسمېلېشن ته منفصــــــــــل اسمېلېشن ( Noncontiguous Assimilation) وایي لکه په دري ژبه کې (سرش) چې په (شرش) سره تلفظ کېږي په دې مثال کې لومړی (س) د وروستي (ش) د تاثیر له امله په (ش) باندې تبدیل شوی دی او د (س) او (ش) تر منځ نور فونیمونه راغلي دي.

**۲ـ ډېسېمېلېشن(Dissimilation):** د مورفونیمیکي بدلونونو یو مشهور ډول دی او هغه دا چې کله کله په یو ترکیب یا کلمه کې یو اواز دوه ځایه تکراري واقع شي.که چیرې نوموړی اواز له نوموړو دوو ځایونو څخه په یو ځای کې په یو بل اواز سره بدلون وکړي دغې عملې ته ډېسېمېلېشن وایي لکه نمونځ او لمونځ په کلمو کې (ن) بدلون په (ل) سره.

**۳ـ قلب (Metathesis):** د مورفونیمیکي بدلونونو څخه یو بل قسم بدلون ته قلب وایي او هغه دا دی چې د کلمو د فونیمونو په ترتیب کې بدلون منځ ته راځي لکه څمکه او مځکه، ورځ او روځ، لوېشت او ولوېشت.

**۴ـ زیاتېدنه (Addition):** د فونیمونو زیاتوالی هم په مورفولوژیکي تغیراتو کې راځي او هغه بدلون ته وایي چې په یو ژبني چاپېریال کې (مورفیم،کلمه) کې یو اوازهسې د یوه خواږه اهنګ په توګه زیات شي بې له دې چې کوم مورفونیمیکي بدلون پکې پېښ شي لکه په موږ او مونږ کې چمن او چمند کې، سین او سیند کې، ارمان او ارماند کې، درون او دروند کې.

**۵ـ کمېدنه (Omission):** غورځېدنه او یا کمېدنه هم یو ډول مورفونیمیکي بدلون بلل کېږي هغه دا چې د یوې کلمې او یا مورفیم څخه یو اواز وغورځېږي یا کم شي لکه څلوېښت څلوېښ، دېرش او دېش او داسې نور.

***ب ـ فونیمکي تغیرات:*** د ژبې په چاپېریال کې د تغیراتو له جملې څخه یو هم فونیمکي تغیرات دي چې لاندې ډولونه لري:

۱ـ د واولونو بدلون یو تر بله پخپل منځ کې لکــــه د مور (Mor) او میر (Mer) غو (Go) غوا (Gwa) په کلمو کې د (اـ وـ ی) تغیر یو پر بل باندې.

۲ ـ د کانسونېنټونو تغیر یو پر بل باندې لکــــه د سرش (Sarsh) چې ځیني یې شرش (Sharash) تلفظ کوي چې دلته د (س) غږ په (ش) باندې بدلېږي، یا روجه، روزه او روژه کلمو کې د (ز،ج،ژ) کانسونینټونو بدلون یو تر بله.

۳ ـ د کانسونېنټونو بدلون په واول باندې لکــــه په ویده (Wida) او بیده (Bida) کلمو کې همدارنګه باید وواېو چې د ژبې په داخلي چاپېریال کې یو شمېر فونیمیکي تغیرات په مختلفو لهجو کې د مختلفو عواملو له کبله منځته راځي چې په لاندې لښتلیک کې دغه تغیرات یا بدلونونه له ورایه ښکاري.

| پکتیا لهجه | فونیمیکه بڼه | ننګرهار لهجه | فونیمیکه بڼه |
|---|---|---|---|
| اندوزه | anduza | اندازه | andāza |
| وده | wuḍə | واده | wādə |
| موت | mut | مات | māt |
| مول | mul | مال | māl |
| روغی | rogay | راغی | rāgy |
| بور | bur | بار | bār |
| کول | kul | کال | kāl |
| ووښه | wuxə | واښه | wāṣa |
| ویدون | wedun | ودان | wadān |
| تور | tur | تار | tār |
| لوس | lus | لاس | lās |
| میر | mer | مور | mor |
| خروب | xarop | خراب | xarāb |
| دریوب | daryab | دریاب | daryāb |
| کیڼ | kiṇ | کوڼ | kuṇ |
| خوره | xoṛa | خواړه | xwaṛa |

**ج. لغوي تغیرات:** د ژبې په داخلي چاپېریال کې یو شمېر لغوی تغیرات د ژبو په مختلفو لهجو کې مختلفو عواملو له کبله منځته راځي لکه مړی (ډوډۍ ،ټیکله)، لوبیا (چوپټې)، بوره (چیني).

**د ژبې او لهجې تر منځ توپیرونه**

ژبه او لهجه تقریباً سره یو شان دي او موخه او هدف یې هم یو دی. د هر انسان فکر باید له دې څخه خالي وي چې ژبه او لهجه د انسانانو د اړیکو د پریکون باعث وبولي خو بالمقابل ژبه او لهجه د انسانانو د اړیکو د ټېن‌ګښت سبب شي، هره ژبه او لهجه معنویت په لحاظ یو پر بل هیڅ فوقیت نلري، ځکه چې ټولې ژبې او لهجې په اصل کې د افهام او تفهیم په منظور را منځته شوي دي او د یوې ژبې ویونکي ته تر ټولو ښه ژبه او لهجه هغه ده چې د دوی په منځ کې تر ټولو ښه د پوهولو او را پوهولو وسیله وي، په هر صورت دلته موږ پر خپلې موضوع تمرکز کوو چې هغه د ژبې او لهجې تر منځ توپیر دی.

۱ـ ژبه د دود له مخې د یوې وسیلې په توګه رسمي منل شوې وي په داسې حال کې چې لهجه په ملي سطحه رسمیت نلري.

۲ـ د ځینو ژبپوهانو له نظره ژبه د بیان هغه وسیله ده چې د هغې په واسطه ادبیات را منځته کېږي په داسې حال کې چې لهجه دا توان نه لري.

۳ـ لهجه د یوې ژبې جزوی شکل دی او ژبه بیا د لهجو لپاره کلي برخه ده.

۴ـ په یوه ژبه کې تر یوې ډېرې لهجې موجودې وي خو دا باید په یاد ولرو چې د یوې ژبې لپاره د ډېرو لهجو لرل د پرمختګ معنا نه لري؛ بلکې هغه ژبې چې لهجې یې لږې وي ښه او د پرمختګ امکانات یې زیات وي نو په دې وجه دا د یوې ژبې لپاره ښه ده چې کمې لهجې ولري څو د یوې واحدې لهجې په لرلو سره د پرمختګ په میدان کې ګامونه پورته کړي.

۵ـ د لهجې د ویونکو شمېر لږ وي خو د ژبې د ویونکو شمېر زیات وي.

**د لهجوي اطلس اصطلاحات**

په لهجوي اطلس کې د ژبپوهنې پوهان او څېړونکي ځینې اصطلاحات راوړي چې دلته یې په لنډ ډول داسې راوړو:

۱ـ ایسوګلاس (Isogloss): هغه سرحدي لیکه چې د ژبې د یو عنصر د استعمال توپیر په مختلفو سیمو کې وښیي ایسوګیلاس نومېږي.

۲ـ فاکلاریه (Focal Area): د ژبې کوم عنصر چې په یوه محدوده سیمه کې استعمالېږي او دغه سیمه د یوه ایسوګیلاس پواسطه احاطه شوې وي هغې سیمې ته مرکزي سیمه یا فاکلاریه (Focal Area) وایي.

۳ـ ګرېډېډ اریا (Graded Area): د ژبې ځینې عناصر چې د استعمال توپیر یې لږ وي ممکن په پراګنده ډول سره ثبت شوي وي؛ نو ځکه نوموړي ایسوګلاسونه د دغسې عناصرو د استعمال ځایونه نشي ښودلی داسې سیمې چې دغه ډول ایسوګلاسونه پکې راغلي وي دګرېډېډ اریا (Graded Area) په نامه یادېږي.

۴ـ لهجوي سیمه (Dialect Area): کله کله چیرې یو زیات شمېر ایسوګلاسونه په یو ځای کې سره واقع شوي وي او تقریباً په یوه خوا باندې تللي وي هغه سیمه چې د ایسوګلاسونو د دغسې بدلونونو پواسطه سره بېله شوې وي لهجوي سیمه (Dialect Area) یې بولي.

**یادونه: پاتې برخه راتلونکې ګڼه کې خپرېږي.**

زېري

د تأسیس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

علمي- څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د ۱۴۰۳ ل.کال، د لړم، او لیندۍ میاشتو ۱۵-۱۸ مه ګڼې | پرله پسې ۴۳۱-۴۳۴ مه ګڼې

**مسئول مدیر:** څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورین

**مهتمم:** څېړندوی پښتون پښتون

**کتنپلاوی:** اکاډمیسین څېړنپوه دوکتور سید محي الدين هاشمي، څېړنوال رحیم الله حریفال، څېړندوی احسان الحق کبیر، څېړندوی مطیع الله ساحل

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبیاتو مرکز خپرنیز ارګان

**برېښنالیک:** zerai1316@asa.gov.af >< zerai1316@gmail.com

**د اړیکي شمېرې:** ۰۷۸۰۸۳۱۹٦۰ (۰) (+۹۳)
۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹ (۰) (+۹۳)

www.asa.gov.af

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، توره باس خان څلورلارې، نوی ښار کابل- افغانستان

**د یوې ګڼې بیه:** پنځه افغانی

● په زېري جريده کې له سرليکنې پرته، د نورو ليکنو سپيناوی په ليکوالو پورې اړه لري.

څېړندوی محمد اتل انګار

## په جمله کې د مورفیمونو ترمنځ اړیکې

**لنډیز**

په جمله کې د مورفیمونو تر منځ اړیکې په دوه ډوله دي چې یو ډول ته یې عطفي او بل ډول ته یې تابعي اړیکې وایي. عطفي اړیکې په جمله کې د مورفیمونو ترمنځ د عطفي اداتو (او، که، یا، و) په واسطه ټینګېږي. همدا رنګه تابعي اړیکې بیا په څلورو ډولونو سره وېشل کېږي چې لومړی ډول یې د سمون اړیکه ده او دا بیا د یوګړي او ډېرګړي، د ښځینه او نرینه او د شخص له مخې په جمله کې د مورفیمونو ترمنځ اړیکې ټینګوي. بل ډول یې اضافي اړیکې دي چې د اضافت د تورو په واسطه په جمله کې د مورفیمونو ترمنځ اړیکې ټینګوي او همدا راز بل ډول یې د ملتیا اړیکه ده او څلورم ډول یې تړوني اړیکه ده چې دا څلور ډوله اړیکې په جمله کې د مورفیمونو ترمنځ ټینګېږي.

**سریزه**

مورفیم چې د ژبې کوچنی معانیز واحد دی په جمله کې په دوه ډولونو سره راځي چې یو ډول یې خپلواک مورفیمونه دي او دا خپله ځانته ځانګړې معنا لري خو که چېرې تجزیه شي همدا لومړنی معنا له لاسه ورکوي او بل ډول یې ناخپلواک مورفیمونه دي چې په یوازې ځان کومه ځانګړې معنا نه ورکوي خو چې له خپلواکو مورفیمونو سره یوځای شي بیا د هغوی له برکته ځانته معنا پیدا کوي او مفهوم افاده کوي، همدا مورفیمونه چې په جمله کې راوړل شي نو د دوی ترمنځ څو څو ډوله اړیکې پیدا شي او دا اړیکې په دې مقاله کې څېړل شوې دي.

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت**

د دې څېړنې اهمیت په دې کې دی چې مونږ مورفیمونه مطالعه کړي دي او د جملې توضیحات مو کړي دي خو په جمله کې مو د راوړل شویو مورفیمونو ترمنځ اړیکې نه دي توضیح کړي، په دې مقاله کې به دا اړیکې توضیح شي او د دې څېړنې مبرمیت دا دی چې په جمله کې د مورفیمونو ترمنځ د اړیکو په سمه معنا پوهېدل او ګرامري جوړښت ته رسېدل اړین دي.

**د څېړنې موخه**

د دې څېړنې موخه په جمله کې د مورفیمونو ترمنځ د اړیکو پیدا کول او د هغو تشریح کول دي.

**د څېړنې پوښتنې**

په عمومي ډول په جمله کې د مورفیمونو ترمنځ څو ډوله اړیکې جوړېږي؟

په جمله کې د مورفیمونو ترمنځ تابعي اړیکې په څو ډوله دي؟

په جمله کې د سمون، اضافي، ملتیا او تړوني اړیکې د مورفیمونو ترمنځ څه ډول ټینګېږي؟

**د څېړنې میتود**

د دې څېړنې میتود تشریحي توصیفي او ډول یې کتابتوني دی.

**د مقالې اصلي متن**

مورفیم هغه کوچنی ژبنی معانیز واحد دی که تجزیه شي خپله معنا له لاسه ورکوي او د هغه له تجزیه کېدو څخه بې معنا اوازونه لاس ته راځي، یا مورفیم د ژبې یو نه تجزیه کېدونکی معنا لرونکی واحد دی. (خوېشکی، ۱۳۹۲: ۲۰ مخ)

غونډله یا جمله د وییونو یو داسې بشپړ خپلواک ټول غونډ دی چې یوه څرګندونه (بیان، پوښتنه، هېښتیا، بلنه یا بولی) لېږدولی شي. غونډله د یوې پېښېدنې ژبنی تجسم یا انځورنه ده چې د یوه اکر (حالت)، چار یا کړن ښکارندویي کوي. (زیار، ۱۳۹٦۵: ۲۱۷ مخ)

له دې پورتنیو دوو تعریفونو څخه مو موخه دا ده چې خپل بحث ته داخل شو او لومړی پر دې پوه شو چې مورفیم څه ته وایي او غونډله څه ته وایي؟ اوس چې په دې دواړو پوه شوو نو را به شو خپل اصلي بحث ته. دا خو څرګنده خبره ده، چې په جملو کې مورفیمونه یو له بله سره اړیکې لري او دغه اړیکې ډېری د ناخپلواکو مورفیمونو په واسطه منځ ته راځي. د بېلګې په ډول لاندې جملې وګورئ:

۱ - بد خویونه سړی د خلکو په نظر کې سپک کوي.
۲ - د مشرانو په پاملرنه د کشرانو کارونه سمېږي.
۳ - هوښیارې مېندې خپل اولادونه ښه روزي او ډېر ناز نه ورکوي.

په پورتنی لومړنی جمله کې (په، کې) په دوهمه جمله کې (په) په درېیمه جمله کې (او) ناخپلواک مورفیمونه او په غونډلو کې د خپلواکو مورفیمونو ترمنځ د اړیکو ټینګولو لپاره استعمال شوي دي. په غونډله کې د مورفیمونو ترمنځ اړیکې په دوه ډوله دي: الف: عطفي اړیکې ب: تابعي اړیکې

الف: عطفي اړیکې: په عطفي اړیکو کې د غونډلې د خپلواکو مورفیمونو ترمنځ د (او، و، یا، که) د ناخپلواکو مورفیمونو په واسطه په مساوي او متوازي ډول اړیکې ټینګ‌ېږي. په دې اړه د پښتو نحوه لیکوال پوهاند محمد آقا شېرزاد داسې لیکي: »په عطفي اړیکو کې د جملې د خپلواکو مورفیمونو ترمنځ او یا په خپله د دوو ساده جملو ترمنځ د عطف د اداتو په واسطه په مساوي او متوازن ډول اړیکې ټینګېږي. یعنې د عطف آدات چې د نه ګردانېدونکو مورفیمونو له ډلې څخه دي، پښوییزه دنده یې همدا ده چې دوه توکه، کلیمې او یا جملې سره یوځای کوي لکه: (او، و، که، یا....). « (شېرزاد، ۱۳۹۵: ۷۰مخ) د پورتنیو څرګندونو د اثبات لپاره راځئ چې لاندې بېلګې وګورو:

څمکه او اسمان خدای ج پیدا کړي دي.
مشر او کشر د احترام وړ دي.
د علم په حاصلولو کې ځوان یا زوړ توپیر سره نه لري.
د کور په کارونو کې باید ښځه او نر لاس وغځوی.
تور که سپین دی خدای پیدا کړی دی.
مور و پلار د اولاد د روزنې لپاره هر ډول ستونزو ته درېږي.

په پورتنیو مثالونو کې وینو چې ځمکه او آسمان، مشر او کشر، ځوان یا زوړ، ښځه او نر، تور که سپین، مور و پلار د (او، که، یا، و) ناخپلواکو مورفیمونو په واسطه یې د خپلواکو مورفیمونو ترمنځ اړیکې ټینګې کړې دي.

ب: تابعي اړیکې: په جمله کې د دې ډول اړیکو ترمنځ

۳ مخ

لیکوال: جېم ران ژباړن: څېړندوی محمد اتل انګار

## رهبري

که ستا کړنه د دې سبب کېږي چې نـــور خلک ډېر خوبونه په خپل سر کې وروزي، ډېر څه زده کړي، ډېر عمل وکړي او ډېر بدلون وکړي، نو ته یو رهبر یې. رهبري، له اوسني حالت څخه لوړوالي ته د ختلو لپاره د هڅې بلنه ده.

د رهبرۍ ستونزه په دې کـــې ده، چې باید پیاوړی و اوسې، خو بې ادبه نه؛ مهربان و اوسې خو ضعیف نه؛ ځیرک و اوسې خو سست نه، متفکر و اوسې خو تنبل نه؛ پښتونواله ولرې خو مغروره و نه اوسې او شوخ مزاجه و اوسې، بې لــــــــــه دې چې کړنه دې ځورونکې وي.

باید زده یې کړو، هغه کسان حمایت کړو چې د حمایت وړتیا ولري، نه هغه کسان، چې اړتیا ورته لري. ژوند وړتیا ته ارزښت ورکوي، نه اړتیا ته.

ښوونکي به مې ویل: ((راځه، چې په ګډه یې وکړو)؛ نه به یې ویل: ((ورشه ویې کړه!)). دغه عبارت څه یو ځواکمن ارزښت لري ((راځه په ګډه...)).ښه خلک د موندنې دي، نه د جوړونې. په دې وروستیو کې مې د ورځپاڼې ډبل سرلیک ولیده چې: ((مونږ خلکو ته دا نه ور زده کوو چې ښه خلک شي، بلکې ښه خلک ګمارو.)) وای! څه د پښتو خبره یې کړې ده!

مدیران خلکـــــــو سره مرسته کوي، څرنګه چې دې هماغسې ځان ووینې؛ رهبران خلکو سره مرسته کوي، چې څرنګه دې له هغې نه ځان ښه او غوره ووینې.

زده یې کړه، چې د اداري له خلکو سره دې نه یوازې په کارونو کې بلکې په ورځني ژوند کې هم یاري وکړې.

رهبران، که په کور، سوداګرۍ، دولتي کړۍ او یا هم په ښوونه او روزنه کې وي، باید هوښیار وي، چې نیت او عمل یا کړنه یو شان و نه ګڼې.

رهبر نه باید ساده ډوله وي. زه پخوا په دې باوري وم، چې ((درواغجن نه باید درواغ ووایي)). څه یو خــــــــام او اومه خیال! وروسته پوه شوم، چې د درواغجن کار درواغ ویل دي. په همدې دلیل هغه ته درواغجن وایو: ځکه چې درواغ وایي! نوره تمه له هغه څخه نه کېږي!

رهبران باید پوه او باخبره وي، چې د ځینې کسانو په فطرت کې له اصولو څخه سرغړونه موجوده وي او په خپل لاس کې یې هم نه وي. نو خپل وخت په بې شمېره ((نه پوهېږم ولې...)) مه ضایع کوئ؛ په یوه مناسب کس پسې وګرځه.

زه معمولاً له خلکو سره د مخامخ کېدو په وخت کې د ((څرګندو له څرګندولو)) له لارې څخه ګټه اخلم. کله چې څوک وایي: ((دغه ټول مصیبتونه یوازې ماته پېښېږي؛ یوازې ماته. حیران یم چې ولې هره تیږه د ګوډ په پښه لګېږي؟))، زه یوازې دومره ورته وایم: ((څه ووایم؟ نه پوهېږم. همدومره پوهېږم، چې دا ډول مصیبتونه تا غوندې خلکو ته پېښېږي)).

د رهبرۍ له غوره موخو څخه یوه دا ده، چې له هغو کسانو سره مرسته وکړئ، چې په کـــــــار کې ضعیفه وي، ښه کـــــــــار وکړي او هغه کسان چې ښه کار کوي، ډېر ښه او پیاوړی کار وکړي.

که ته د یوه رهـــــبر په حیث غواړې چې خپل کسان کوم ځای ته هدایت کړې، باید له هغه ځایه یې پیل کړې په کوم ځای کې چې هغوی همدا اوس دي.

**پای**

\- - - - - - - - - - - - -

پوهندوی دوکتور سید اصغر هاشمي

## د عبدالرحمن بابا په څو شعرونو کې د اختیار فلسفي څېړنه (۲) برخه

موږ نه شو کولای چې د انسان عقلي ځواک ته ارزښت ور نه کړو. د انسان فوقیت او زوال له عقل سره تړاو لري. ټولې اختیاري ښې کړنې د عقل په وسیله رهبري کېږي، عقل ورته لارښوونه کوي، عقل یې له بې لارۍ ژغوري او عقل ورته د ښو کولو او بدو نه کولو وایي. د عقل ټولې کړنې په تقدیر کې لیکل شوي دي چې د قسمت یوه برخه ده چې دا ټول د انساني اختیار هغه برخه ده چې د انسان په وسیله تر سره کېږي.

عبدالرحمن بابا پورته بیت کې ورته نظر په نورو بیتونو کې وړاندې کوي. دی بیا هم په دې نظر دی چې اختیاري اعمالو پر ځای تقدیر ته غاړه کېښودل مهمه ده. مخکې یادونه وشوه چې په تقدیر ایمان لرو خو په ورځني ژوند کې هر څه پرېښودل، کار نه کول، فکر او پوهه نه تولیدول، له ځمکې او اسمانونو څخه ګټه نه اخیستل به انساني عمل نه وي. د نړۍ د هر شي د اختیار واک له انسان سره دی او د دې واک واګې یې انسان ته ورکړې دي. وایي:

که سړی له خپلې پوهې تقصیر نه کا
د خدای کړه به څوک په پوهه تغییر نه کا
خواه ناخواه به د تقدیر شوی ور پیښ شي
که څوک هیچرې نظر په تقدیر نه کا
د هغو چې بخت بیدار شه غم یې نشته
که هیچرې بیداري و شبګیر نه کا
دا له خپلې کم فهمیه مونږه وایو
چې فلانا سړی تالاش و تدبیر نه کا
دلګیري او خوشحالي که په خپل لاس وي
په خپل لاس به خپل سر هیڅوک دلګیر نه کا
(۱: ۴۱مخ)

***

چې علاج کولی نه شي د قسمت څوک
ترو به څه وایي و چاته نصیحت څوک
هغه چاره چې موقوفه په تقدیر وي
کړی یې نه شي په محنت په مشقت څوک
(۱: ۱۱۷مخ)

په پورته ډېرو بیتونو کې د راغلي بیت پـه اړه مـفهـوم لیدل کېږي:

هغه چاره چې موقوفه په تقدیر وي
کړی یې نه شي په محنت په مشقت څوک
(۱: ۱۱۷مخ)

د عبدالرحمان بابا د راغلو بیتونو په ځینو برخو کې بیا هم اختیار نفې شوی دی. انساني مشقت او محـنـت د تقدیر برخه ده. کله چې انسان کار کوي، خوب کوي، سخته پرې راځي، د خوښۍ ښښتن کېږي او په لسګونو متضادو تحولاتو سره مخامخېږي، دا ټول د انسان په تقدیر کې لیکل شوي دي او هره کړنه د انسان په وسیله تر سره کېږي او د انسان واک پکې حتمی دی. کله چې انسان په ورځني ژوند کې کار کوي، مشقت پرې راځي، په حقیقت کې دا د تقدیر برخه ده چې د انسان واک او اختیار پکې اړین دی.

(ډېرې نظریې د انسان په خود مختارۍ تاکید کوي. دوی په دې باور دي چې انسان نړۍ ته ازاد راغلی دی، له همدې امله دا توانایي لري چې خپله لار خپله غوره کړي او له هر ډول قید او بند څخه خلاص دي. خپل راتلونکی او شرنوشت خپله وټاکي. د پوهې په وسیله کولای شي چې خپل حقوق تر لاسه کړي او اختیار انسان ته ورکړل شوی دی. هېڅ اړتیا نشته چې ماوراالطبیعت یې سرنوشت وټاکي، ځینې دیني ارزښتونه د انسان د ازادۍ او له اختیار سره متضاد دي نو د نړۍ پر مخ له صحنې باید لرې شي.) (۵: ۲٦مخ)

له رېنسانس دورې څخه مخکې د کلیسا راهبانو او کشیشانو به هره پریکړه د خپلې ګټې لپاره کوله. هر څه د کلیسا په دایره کې و، فکرونه قید شوي او بندي وو، د فکر کولو او فکري تولید صلاحیت له انسانانو څخه سلب شوی وو. ټولنیز قیودات زیات وو، سیاسي ستونزې وې، لنډه دا چې هر څه د یوې خاصې کړۍ لخوا د خاصو خلکو لپاره د دوی د ګټې په نظر نیولو سره تر سره کېده، نو ځکه په پورته نظر کې د انسان د خودمختارۍ یادونه کېږي.

له نورو موجوداتو څخه د انسان یو توپیر په انساني جوړښت کې دی. د خبرو کول، فکر کول، داخلي او خارجي جوړښت، پوهه تر لاسه کول، تېر ژوند ته ګرځېدل او لاشعور او په لسګونو داسې نور لاملونه دي چې انسان ته یې په نورو موجوداتو برتري ورکړې ده چې د دغې برترۍ یو لامل انساني اختیار دی.

(خبره دا ده چې د عقل او شعور د ودې له کبله انسان د حیواناتو له ډلې جلا کوي او له زرهاوو کلونو را په دې خوا هغه خپل غرایز د عقل او پوهې تر ولکې لاندې د راوستلو په هڅه کې بوخت دی. دی په دې لاره کې له ناکامیو سره مخامخ شوی دی، لیکن د ټولنیز پرمختګ، فرهنګ او تمدن شتون په خپل ذات کې د دې خبرې ثبوت دی چې انسان له غرایزو څخه په رغنیزو کارونو کې په ګټه اخیستنه کې هم بریالی شوی دی. عقل، پوهه او غرایز رغنیزو کارونو ته اړ کړل او په دې توګه هغه د غرایزو بې پایه واکمني ور ماته او خپلواکي او اختیار یې تر لاسه کړل. حیوان تر اوسه مجبـور دي، ځکه هغه د غرایزو په کلکه ولکه کې دي. انسان اختیار لرونکی فاعل دی، ځکه هغه په غرایزو باندې د عقل ولکه ټینګولای شي. د دې خپلواکۍ او اختیار له برکته هغه (انسان) په شعوري توګه د خپل چاپېریال د بدلون هڅه کړې ده او د چاپېریال بدلون خپله د ده په فطرت کې هم بدلونونه پیدا کړي دي. حیوانات د غریزو له لاسه مجبور دي نو ځکه موږ دغسې کړنې تګلارې ته Behavior وایو. څنګه چې دا په انسان کې عقـل او پوهه د غرایزو ړنده واکمني ماتوي نو ځکه موږ د دغې کړنې تګلارې ته Conduct نوم ورکوو. پر دې سربېره فروید او پیروانو یې د خپلو اندونو بنسـټ د فرد په روحي او نفسیاتي تجربې ایښی دی او ټولنیزو عواملو ته یې پاملرنه نه ده کړې نو ځکه هغوی د دې ذهني او روحي بدلونونو جاج نشي اخیستلی، هغه چې د ټولنې د یو وګړي په حیث په ذهن او د کړنې په تګلاره کې واقع کېږي.) (٦: ۵۸مخ)

د پورته دوو اقتباسونو څخه زما موخه دا ده چې انسان ته دا صلاحیت خالق تعالی ورکړل دی چې فکر وکړي او د فکر په وسیله یې له نورو موجوداتو څخه توپیر کېږي. د ده فکر، د فکر په وسیله کړنې تر سره کول، ښه کول او بد نه کول او داسې نورې کړنې اختیاري عملونه دي، چې په تقدیر کې لیکل شوي خو فاعل یې انسان دی او د انسان په وسیله تر سره کېږي، نو ځکه هر څه په تقدیر تپل او اختیار ته ارزښت نه ورکول به د تأمل وړ موضوع وي. د تقدیر څخه برداشت دا دی چې ټولې مختارې کړنې په تقدیر کې لیکل شوي او کله کله جبر هم د تقدیر یوه برخه ګرځي.

**مأخذونه**

۱ـ رحمان بابا. د رحمان بابا کلیات، تحقیق، ترتیب او سمون دوست محمد خان کامل مومند او قلندر مومند. یونیورسټي بک ایجینسي:- پېښور، ۲۰۱۸م، ۲۷٦مخ.
۲ـ مندوزی، محمد ولي. اخلاق او هومانیزم، د افغانستان د علومو اکاډیمي: کابل، ۱۳٦۷ل، ٦۲مخ.
۳ـ مومنی، ناصر. تربیت انسان در پرتو انسان شناسی، صدرایی: ۱۳۹۴ل، ۲مخ.
۴ـ څلاند. عقلانیت او هیومانیزم، (انسان مجله، ۴مه ګڼه)، ۱۳۹۴ل، ۹۰مخ.
۵ـ تابش، هنګامه. مقصود و هدف انسان در ایین مزدستان، (عرفان مجله) چاپ کال نه لري، ۲٦مخ.
٦ـ جلالپوري، علي عباس. انساني فکر (انسان مجله، اوله ګڼه)، کابل، ۵۸، ۱۳۹۲مخ.

\- - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - -

ZERAI
Afghanistan Science Academy (ASA)
EDITOR - IN - CHIEF:
Associate Professor.
Dr. Muhammad Ishaq Khawreen
Assistants
Assistant Prof. Pokhtoon Pokhtoon
Compose and Design:
Dr. Khawreen

**Address:** Center for Languages and Literature, Institute of Pashto Language and Literature (ASA)
Shahr-E Now Kabul, Afghanistan
**Contact:** (+93)(0)202201279/(+93)(0)780831960
**Email:**zerai1316@asa.gov.af
zerai1316@gmail.com